د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۷/ ذی القعده /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۴ / ثور/۱۴۰۵هـ، ش**

# په اسلام کې د حج فرضیت او اهمیت ، او د حج د اداء کولو طریقه یی

بسم الله الرحمن الرحیم

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، إنه من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له ، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله.

قال الله سبحانه وتعالی: (الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلا رَفَثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الأَلْبَابِ). البقرة: (۱۹۷)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

اسلام په پنځو ارکانو ولاړ دی، د شهادت کلمه ، لمونځ، روژه ، زکات او د بیت الله حج .

په حدیث شریف کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ». متفق علیه

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بنا شوی دی اسلام په پنځو ارکانو باندې، ددې شهادت ورکول، چې نشته معبود برحق ، مگر الله تعالی دی او بل قائمول دلمانځه دي او بل ورکول د زکات دي او بل د بیت الله حج کول دي او بل د رمضان روژه ده.

ددې حدیث شریف څخه مراد دادی چې اسلام په دې پنځو ارکانو ولاړ دی او دا پنځه کارونه د اسلام لپاره داسې دي لکه د یوې آبادۍ لپاره ستنې. لکه څرنگه چې د محمد بن نصر مروزي په روایت کې راځي:( بُني الإسلام علی خمسِ دعائم ) اسلام په پنځو ستنو و ارکانو ولاړ دی.

په حدیث شریف کې نبي علیه السلام اسلام د یوې ودانۍ سره مشابه کړی دی او لکه څرنگه چې یوه آبادي بدون له ستنو او دیوالونو نشي قائمیدلې ، دارنگه اسلام هم د دغو پنځو ارکانو پرته نه قائمیږي.جامع العلوم والحکم محقق (۵/ ۲)

لله الحمد مونږ او تاسې هر وخت دتوحيد کلمه وايو او پنځه وخته لمونځ اداء کوو او شتمن خلک په کال کې زکات فقيرانو او مستحقينو ته ورکوي، فرضي روژه هم مکلف کسان نيسي ، نو د دغو ارکانو په باره مونږ او تاسې کافي معلومات لرو. خو حج چې د اسلام د پنځو ارکانو څخه مهم رکن دی او په عمر کې يو ځل په انسان فرض دی په اړه يې زيات معلومات نه تبادله کيږي. نو هغه ځلميان چې په دې کال کې نوي بالغ شوي دي او يا هغه کسان چې سږکال د حج سفر لري دوی ټولو ته په کار دي ، چې د حج د فرضيت او اهميت څخه ځانونه خبر کړي.

## د حج فرضيت او اهميت د قرآن کريم د آيتونو په رڼا کې:

حج په عمر کې يو ځل په مکلف مسلمان باندې چې مالي او جسمي توانايې ولري او حج ته د تللو په لاره کې کوم خنډ نه وي.

په قرآن کريم زيات آيتونه د حج د فرضيت او د حج د احکامو او مسائلو په اړه راغلي دي .

الله جل جلاله فرمايلي دي چې حج په (شتمنو) خلکو باندې فرض دی: (وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ) [آل عمران: ۹۷]

ترجمه: او (واجب دی) الله لره پر خلقو حج (قصد کول په نيت د حج) د( دې) بيت (الله، دا) دی پر هغه چا چې قدرت لري طرف د ده ته د لارې او هر څوک چې کافر شو (ويې نه مانه) نو بېشکه الله بې پروا دی له ټول عالم (يعنې له هر چا او هر شي).

حافظ ابن کثير د دې آيت په تفسير کې ليکلي دي: (هذه آية وجوب الحج عند الجمهور. وقيل: بل هي قوله:(وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ) ، والأول أظهر). تفسير ابن كثير (۱/ ۴۷۲)

ژباړه: دا مبارک آيت د حج د وجوب لپاره دی د جمهورو علماوو په نزد او څوک وايې چې د حج د فرضيت لپاره د (وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ) آيت دی، مگر لومړنی آيت ډير ظاهر دی (د حج د فرضيت لپاره).

امام کاساني رحمه الله وايې: دا آيت ددوو وجهو نه د حج د فرضيت دليل دی. يو داچې په دې آيت کې (على الناس) راغلی دی او (على) د وجوب کلمه ده. او بل داچې الله تعالى فرمايلي دي: ( وَمَنْ كَفَرَ ) ددې آيت په تأويل کې ويل شوي دي (او څوک چې کفر وکړي په وجوب د حج باندې). عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايې په حج کفر کول دادی، چې حج نيک عمل ونه گني او ترک د حج گناه ونه گني. بدائع الصنائع (۲/ ۱۱۸)

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالى د حج په اتمام او قائمولو باندې امر کړی دی.الله تعالى فرمايلي دي:(وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ).البقرة:(۱۹۶)ترجمه:او پوره ادا کړئ حج ! او عمره خاص الله لره.

حافظ ابن کثير رحمه الله وايې: (أي أقيموا الحج ) تفسير ابن كثير (۱/ ۲۸۷)ژباړه: يعنې قائم کړئ حج .

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالى فرمايلي دي: (الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلا رَفَثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الأَلْبَابِ* لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلاً مِنْ رَبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ(۱۹۸) ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ). البقرة: (۱۹۷-۱۹۹)

ترجمه: (وخت د) حج (څو) میاشتې معلومې دي. نو هر چا چې فرض کړ (په خپل ځان) په دې میاشتو کې حج نو نه دې کوي جماع (او نه دواعي د هغې) او نه گناهونه او نه جګړې په (ورځو) د حج کې او هر څه چې کوئ (تاسې) له نېک کار ځنې نو پوهیږي په هغه باندې الله. او توښه واخلئ (ځانو سره) نو بېشکه بهتره توښه ځان ساتل دي له سواله او ووېرېږئ! له ما ځنې ای خاوندانو د (صافو) عقلو! نشته په تاسې باندې هيڅ گناه په دې کې چې غواړئ روزي له فضل د رب خپل.نو هر کله چې را کوز شئ له عرفات څخه نو یادوئ الله په مشعر الحرام (مزدلفې)کې او یادوئ دي (یعنې الله) لکه چې لاره يې در ښودلې ده تاسې ته او بېشکه چې وئ تاسې پخوا له هدايته خامخا له گمراهانو ځنې. بیا راکوزېږئ! (ای قریشـو د طواف لپاره) له هغه ځایه (عرفات څخه) چې راکوزیږي (نور) خلق (مزدلفې ته) او مغفرت وغواړئ له الله څخه (د خپلو گناهونو) بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی ( د گناهونو) پوره رحم کوونکی دی.

په پورتني مبارک آیت کې هم الله تعالی حجاجو ته امرونه متوجه کړي دي، چې چا په ځان باندې حج فرض کړ یعنې احرام يې وتړلو او تلبیه يې وویله ، نو د فحشاء او کوروالي خبرې به نکوي، فسق او دگناه کارونه او خبرې به هم نکوي او جنگ او جدل به هم نکوي او توښه له ځان سره واخلئ چې غوره توښه هغه د سوال کولو څخه د ځان ساتل دي.کله چې له عرفات څخه مزدلفې ته راښکته شوی ، نو الله تعالی یاد کړئ. چې دا ټول الهي اوامر د حج پر اهمیت دلالت کوي.

په یو بل مبارک آیت الله تعالی فرمایلي دي: (وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ* لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ) الحج:۲۷-۲۸)

ترجمه: او غږ وکړه (ای ابراهیمه!) په خلقو کې د حج ( د اداء کولو) لپاره چې راشي (حاجیان) تا ته پلي (پیاده) او (سواره) په هر ډنگر اوښ چې راځي (دا اوښـان) له هرې لارې لرې (ژورې لرې) نه لپاره د دې چې حاضر شي( دغه خلق ځای د د نیوي او اخروي) گټو خپلو ته او چې یاد کړي نوم د الله په هغو څو ورځو ( د لوی اختر) کې چې معلومې دي په (ذبح د) هر هغه حیوان چې ورکړی دی الله دوی ته له بې ژبو چارپایانو څخه.
ددې (وَأَذِّن فِي النَّاسِ) امر په باره کې دوه توجیهات مفسرینو ذکر کړي دي: یوه توجیه داده چې الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته امر وکړ، چې خلکو ته اعلان وکړه د حج په باره کې.
دوهمه: توجیه داده چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر کوي چې ته خلکو ته د حج په اړه اعلان وکړه.
امام ماوردي رحمه الله لیکلي دي:( هذا أمر من الله تعالى لنبيه محمد ( صـلى الله عليه وسـلم ) أن يأمر الناس بحج البيت). النكت والعيون (٤/ ١٨)

ژباړه: دا امر دی د الله تعالی له طرفه خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته چې امر وکړي خلکو ته د بیت الله د حج لپاره.

## د حج فرضيت او اهميت د احاديثو په رڼا کې:

د حج د فرضیت او اهمیت په باره کې گڼ شمیر احادیث راغلي دي چې ځینې يې په لاندې ډول دي:
په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي چې الله تعالی حج په (شتمنو) خلکو فرض کړی دی. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ، فَحُجُّوا».صحيح مسلم (٢/ ٩٧٥)
ترجمه: دابوهریره رضـی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایې یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته خطبه وویله او داسې يې وویل: ای خلکو! بیشکه الله تعالی په تاسو(شتمنو خلکو ) حج فرض کړی دی نو حج وکړئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کې خلکو ته وفرمایل، چې زما څخه د حج مناسک زده کړئ.عن جابر رضي الله يَقُولُ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ، وَيَقُولُ: «لِتَأْخُذُوا مَنَاسِـكَكُمْ، فَإِنِّي لَا أَدْرِي لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِي هَذِهِ».صحيح مسلم (٢/ ٩٤٣)

ترجمه: د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې ما نبي علیه السلام ولیده چې جمرات یې ویشتل د خپلې سپرلۍ له سر څخه د اختر په ورځ او داسې یې وویل: خامخا باید تاسې واخلئ ( زده کړئ) زما څخه مناسک د حج ، بیشکه زه نه پوهیږم شاید چې زه حج ونه کړم پس د دې حج زما څخه. په یو بل حدیث شریف کې راځی: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: « أَلَا لَعَلَّكُمْ لَا تَرَوْنِي بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا، أَلَا لَعَلَّكُمْ لَا تَرَوْنِي بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا، أَلَا لَعَلَّكُمْ لَا تَرَوْنِي بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا». فَقَامَ رَجُلٌ طَوِيلٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَـنُوءَةَ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ، فَمَا الَّذِي نَفْعَلُ؟ فَقَالَ:« اعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَصَـلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَحُجُّوا بَيْتَكُمْ، وَأَدُّوا زَكَاتَكُمْ طَيِّبَةً بِهَا أَنْفُسُكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ» مسند أحمد ط الرسالة (٣٦/ ٥٩٥)

ژباړه: د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حجة الوداع وکړ، نو نبي علیه السلام د الله تعالی حمد او ثناء وویله بیایې داسې وفرمایل: خبردار! شاید تاسې ما لره ستاسې ددې کال څخه وروسته ونه وینی، خبردار! شاید تاسې ما لره ستاسې ددې کال څخه وروسته ونه وینی، خبردار! شاید تاسې ما لره ستاسې ددې کال څخه وروسته ونه وینی.نو پاڅیده یو سړی، چې بنو شَنُوءَه له قبیلې څخه معلومیده او وه یې ویل: ای د الله پیغمبره! نو مونږ څه وکړو؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: د خپل رب عبادت وکړئ او لمونځ وکړئ خپل پنځه وخته او روژه ونیسئ د خپلې (رمضان) میاشتې او حج وکړئ د خپل کور(بیت الله) او اداء کړئ زکات خپل په داسې حال کې چې خوشحاله وي ورباندې ستاسې نفسونه، ترڅو داخل شی د خپل رب جنت ته.

څوک چې پرته له عذره حج نکوي ، د هغوی په باره کې سخت وعید راغلی دی په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ عَنِ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ، أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ، أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ، فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا، وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا». سنن الدارمي (٢/ ١١٢٢)، مصنف ابن أبي شيبة (٣/ ٣٠٥)

ژباړه: د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چالره چې منع نکړي د حج څخه ښکاره (یقیني) حاجت او یا ظالم پاچا او یا منع کوونکی مرض او بیا وفات شو او حج یې ونه کړ، نو مړ دې شي که خوښه یې شوه یهودي دې (مړ شي) او که خوښه یې شوه ، نو نصراني دې (دې مړشي).

رسول الله صلی الله علیه وسلم حج بهترینو کارونو څخه شمیرلې دی.په حدیث شریف کې راځي:( عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ العَمَلِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ: «إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ». قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «حَجٌّ مَبْرُورٌ» صحيح البخاري (١/ ١٤)

ژباړه:د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی؟ پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: په الله تعالی او دهغه په رسول ایمان درلودل.وویل شـو چې بیا کوم عمل غوره دی؟ پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: د الله تعالی په لاره کې جهاد کول غوره دی. بیا وویل شو چې بیا کوم عمل غوره دی؟ پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: قبول شوی حج غوره دی.

د (مبرور حج) په باره کې محدثين وايې چې قبول شوی حج هغه دی چې ګناهونه په کې ونه شي يو حديث شريف کې راځي چې د نبي عليه السلام څخه پوښتنه وشوه چې قبول شوی حج کوم يو دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: د ډوډۍ ورکول او خوږې خبرې کول. او د قبول شوي حج دا علامات دي چې دحج څخه وروسته دحاجې حالت به د حج څخه وروسته د پخوا څخه بهتره شي او دحج په اداء کولو کې ټول فرائض، واجبات، سنتونه او مستحبات رعايت شي. المفهم للقرطبي(٢/ ٤٠)، مرعاة المفاتيح (٨/ ٦٤٢)
امام نووی رحمه الله د قبول شوي حج په باره کې ليکلي دي: (مِنْ عَلَامَاتِ الْقَبُولِ أَنْ يَزْدَادَ بَعْدَهُ خَيْرًا). شرح النووي (٢ /٧٥)
ژباړه: د حج د قبليدو له علامو څخه دا ده چې د حج څخه وروسته د حاجي د خير کارونه زيات شي.

په حديث شريف کې راځي چې د قبول شوي حج عوض جنت دی. (عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلاَّ الْجَنَّةُ) متفق عليه

ژباړه: د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسو الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يوه عمره تربلې عمرې پورې د هغه ګناهونو کفاره ده چې د دواړو عمرو ترمنځ وي او د قبول شوي حج عوض نشته، مګر جنت دی.

همدا راز په يو حديث شريف کې راځي چې حج فقر او ګناهونه له منځه وړي:عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ وَالذَّهَبِ وَالفِضَّةِ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلاَّ الْجَنَّةَ) . سنن الترمذي (٣/ ١٦٦)، سنن النسائي (٥/ ١١٥)

ژباړه: له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : حج او عمره دواړه يو په بل پسې اداء کړئ، ځکه دا دواړه فقر او ګناهونه داسې لرې کوي لکه د پښ (آهنګر) کوره چې د اوسپنې، سرو او سپينو زرو څخه خيری لرې کوي او د مقبول حج ثواب نشته مګر جنت دی. حج مسلمان له ګناهونو څخه پاکوي.په حديث شريف کې راځي: عن أَبِيَ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ، رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ» صحيح البخاري (٢/ ١٣٣)

ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې د الله تعالی د رضا لپاره حج وکړي او (په حج کې) د بی حيايی خبرې (د فحش خبرې او يا د جماع مربوط خبرې) ونه کړي او فسق (ګناه)، ونکړي، را وبه ګرځي (له حج څخه) په شان د هغې ورځې چې زيږه ولې ؤ ده لره مور دده. يعنې له ګناهونو څخه به داسې پاک شي لکه چې د مور څخه نوی پيداشی.

## د حج ډولونه:

حج په درې ډوله دی: حج تمتع ، حج قِران او حج افراد .

**۱-حج تمتع:** حج تمتع، هغه حج ته ويل کيږي ، چې حاجې لومړی عمره وکړي او د سر ويښته وخريوي او يا به يې کم کړي او بيابه د عمرې څخه وروســته په مکه مکرمه کې د ذوالحجې تر اتم تاريخ پورې پاتې شي او کله چې د ذو الحجې اتمه ورځ شي، نو دمکې مکرمې څخه به د حج لپاره احرام وتړي.

**۲- حج قِران:** قِران حج، چې تر ټولو افضل حج دی، هغه حج ته ويل کيږي چې حاجې د عمرې او حج دواړو لپاره احرام وتړي او کله چې عمره وکړي ، نو په احرام کې به پاتې کيږي او ځان به نه حلالوي او چې کله د ذوالحجې اتمه ورځ شي ، نو په همغه احرام کې به د حج دإداء کولو لپاره منی ته لاړ شي.

**۳-حج افراد:** حج افراد هغه حج ته ویل کیږي ، چې حاجي د ذوالحجې په اتمه ورځ له مکې څخه یواځې د حج لپاره احرام وتړي او حج وکړي.

## د حج د اداء کولو طریقه:

د افغانستان خلک عموماً د تمتع حج کوي او د تمتع په حج کې لومړی عمره اداء کیږي او بیا د حج لپاره احرام تړل کیږي.

## الف- د عمرې د اداء کولو طریقه:

څوک چې د تمتع حج لپاره عمره کوي نو باید لاندې کارونه وکړي:

۱-د میقات څخه به احرام وتړي او افغانســتان حجاج د هوایي لارې حج ته ځي ، نو کله چې طیاره میقات ته ورسـیږي ،نو د طیارې مسـئولین آواز کوي چې خپل احرامونه وتړئ.نو څوک چې د افغانستان څخه د حج سفر کوي مستحب ده، چې د احرام څخه مخکې خپل نوکان واخلي او خپل بریتونه لنډ کړي، غُسل وکړي او یا اودس وکړي ، خو غُسل کول افضل دي.

کله چې په طیاره کې د احرام تړلو آواز وشي، نو د احرام دوه لباســونه یو څادر او بل لُنګ، لُنګ به له نامه څخه بره وتړي او څادر به واغوندي. غوره داده چې د احرام دغه دوه څادرونه به سپین وي او نوي وي او که نه وې نه وي، نو باید وینځل شوي وي او کله چې یې د احرام لباس واغوستلو ، نو دوه رکعته لمونځ به وکړي او په زړه کې به د عمرې نیت تازه کړي او په خوله به داسې ووایي: (اللَّهُمَّ إنِّي أُرِيدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لي وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي) ای الله ! زه د عمرې داداء کولو اراده لرم ، نو ته یې راته اسانه کړې او زما څخه یې قبوله کړې. او که چیرې په زړه کې یې نیت وکړ، نو هم جائز ده. بیا به تلبیه ووایي ، هغه داسې: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ ». او کله چې یې نیت وکړ او تلبیه یې وویله ،نو ده احرام وتړلو او په احرام کې داخل شو.د تلبیې ویلو څخه وروسته مستحب ده، چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ووایي او هغه دعاګانې وغواړي چې خوښه یې وي.

۲- کله چې یې احرام وتړلو ، نو ځان به د کوروالي او د کوروالي له خبرو څخه وساتي، ځان به له ګناه کولو څخه ساتي، ځان به د ښکار کولو څخه ساتي او ځان به دګنډلو جامو له اغوستلو ، پټګي تړلو ، د پښو پټنو کولو ، د سر او مخ له پټولو ، د خوشبوی له لګولو ، د سر د خریلو یا کمولو ، د ویښتانو اخیستلو او د نوکانو له قطع کولو څخه ساتي.

محرم ته جائز دي چې غُسل وکړي او حمام ته داخل شي او د کور یا ګاړي سوري ته ودریږي او محرم ته جایز دي چې له ملا څخه د ضروري شیانو د حفاظت لپاره د همیانۍ په څیر شی وتړي. محرم به زیاته تلبیه وایې خصوصاً لمونځونو پسې وروسته یا دختلو او کوزیدلو پر وخت او د سپرو خلکو سره د مخامخ کیدو پر مهال او په سهار کې به زیاته تلبیه وایي.
۳-کله چې حاجې او معتمر مکې مکرمې ته داخل شي او خپل سامانونه په خپلو ځایونو کې ځای پرځای کړي، نو د مسجد حرام ته په ورتللو به پیل وکړي او کله چې یې سترګې په کعبه شریفه ولګیږي، نو تکبیر به ووایې او لااله الا الله به ووایې او حجرالاسود ته به ورشي او حجر الاسود ته به مخامخ شي او حجر الاسود به ښُکل کړي که چیرې امکان یې درلودلو او که چیرې د حجر الاسود د ښکلولو امکان نه ؤ، نو حجر الاسود ته به لاسونه پورته کړي لکه د لمانځه په شان او تکبیر به ووایي او د طواف قدوم په شان به طواف شروع کړي اووه(۷) ګردشه د حطیم څخه بیرون. په لومړنیو درې ګردشونو کې به رَمَل کوي او په باقي څلورو ګردوشونو کې به عادي تګ کوي او هرکله چې حجر الاسود ته رارسیږي د حجر الاسود استلام به کوي،یعنې تکبیر به وایې او لاس به ورته پورته کوي او اووم ګردش به هم په استلام باندې ختموي.

بيابه په مقام ابراهيم يا په بل كوم ځای كې د مسجد الحرام څخه دوه ركعته د طواف واجبي لمونځ وكړي او د زم زم اوبه به وڅښي، بيابه راشي او د حجر الاسود استلام به وكړي او صفا غونډۍ ته به ورشي او د صفا او مروه ترمنځ به سعيه وكړي او د صفا او مروه ترمنځ به اووه(٧) ځله منډې وكړي. د صفا څخه ترمروه پورې دا يوه منډه حسابيږي ، چې اخيري منډه په مروه ختميږي.له دې څخه وروسته به سلماني ته ورشي او سر به وخريوي او يا به يې كم كړي، خو خريل يې افضله دي.كله چې يې سره وخريلو ، نو عمره يې پوره شوه او له احرام څخه ووتلو.

**ب- د حج د اداء كولو طريقه:**

حاجي چې كله له عمرې څخه فارغ شي، نو په مكه مكرمه كې به پاتې كيږي او د بيت الله طوافونه به كوي او د بيت الله طواف د افاقي لپاره د لمانځه څخه غوره دی.

كله چې يوم الترويه شي(اتم د ذوالحجې) ، نو حاجي به په مكه مكرمه كې د خپل د اوسيدو په ځای كې د حج لپاره احرام وتړي ،د احرام دوه څادرونه به واغوندي، په زړه كې به د حج نيت وكړي او په خولې به داسې ووايې(اللَّهُمَّ إنيِّ أُرِيدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لي وَتَقَبَّلْهُ مِنِّي). ای الله! زه اراده د حج لرم ، نو راته يې اسان كړه او قبول يې كړه زما څخه.

او څوک په عربي ويلو كې مشكل لري، نو په خپله ژبه دې داسې ووايي ای الله ! زه د حج اراده لرم ، نو ماته اسانه كړې او له ما څخه يې قبول كړې.بيا به تلبيه په اوچت آواز سره ووايې: :« لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ ». كله چې يې تلبيه وويله ،نو دی محرم شو او په احرام كې داخل شو. او د تلبيې څخه وروسته به د منٰی په لور حركت وكړي او كله چې منٰی ته ورسيدلو ، نو شپه به په منٰی كې تيره كړي او د سهار لمونځ به په منٰی كې وكړي.

د ذوالحجې په نهم تاريخ چې د عرفې ورځ ده، حاجې به د عرفې په سهار له منٰی څخه د عرفات په لور روان شي او كله چې عرفات ته ورسيږي، هلته به خپل معلوم ځای كې د خپلو ملگرو سره واړوي.كله چې د لمر زوال وشي ، نو اودس به وكړي يا به غُسل وكړي كه چيرې د حنفي مذهب د معتبرو شروطو د شتون په صورت كې به د ماسپښين او مازيگر لمونځونه د ماسپښين په وخت كې په يو اذان او دوه اقامتونو سره د امام سره وكړي او كه چيرې د حنفي مذهب معتبر شرطونه موجود نه ؤ، نو د ماسپښين لمونځ به په خپل وخت او د مازيگر لمونځ به په خپل وخت كې وكړي.

او د امكان په صورت كې به د جبل الرحمت په خوا كې وقوف وكړي، ولو كه يوه لحظه وقوف وشي. په عرفات كې وقوف د حج لومړنی ركن دی. لكه حديث شريف كې چې راځي: (الحج عرفة) حج د عرفې د وقوف څخه عبارت دی .يعنې د حج لوی او مهم ركن د عرفات وقوف دی. د جبل الرحمت په خوا كې وقوف ضروري نه دی او په هرځای كې يې چې ملگري وي هلته دې وقوف وكړي. خپل لاسونه به الله تعالی ته پورته كړي او د الله تعالی څخه به د خپلو گناهونو ښښنه وغواړي او هر څومره جائزې دعاگانې او اذكار چې په توان يې وي ودې كړئ، ځكه چې د عرفې ورځ د هغو ورځو څخه ده چې د بنده دعاگانې او عبادات په كې قبليږي.بهتره داده چې وقوف د ماسپښين لمانځه څخه وروسته وشي.

كله چې لمر غروب وكړ، نو له عرفات څخه به د مزدلفې (مشعر الحرام) په لور حركت وكړي او شپه به په مزدلفې كې تيره كړي او د ماښام او ماخوستن لمونځونه به په مرذلفه كې وكړي او په لاره كې به د ماښام لمونځ نكوي، ولو كه مزدلفې ته د شپې ناوخته ورسيږي.

كله چې د ذو الحجې لسم تاريخ شي چې همدغه د اختر ورځ ده ، نو د سهار لمونځ به په مزدلفه كې په تياره كې وكړي بيا به په مزدلفه كې د لمر ختلو څخه مخكې وقوف وكړي ، اگر كه دغه وقوف يوه لحظه هم وي. په دغه وقوف كې به دعاگانې د الله تعالی څخه وغواړي.

بیا به د لمر ختلو څخه لږ د مخه منٰی ته طرف ته د جمراتو د ویشتلو لپاره حرکت وکړي، کله چې د جمراتو د ویشتلو ځای ته ورسیږي، نو جمره عقبه چې اخیرې جمره ده او د مکې مکرمې طرف ته واقع ده په اوو(۷) وړو وړو ګیټکیو په مسنونه طریقه وولي چې د هرې ګیټکی د ویشتلو پر وخت به تکبیر وایې. مستحب داده چې د جمراتو د ویشتلو لپاره به ګیټکی د مزدلفې څخه او د مزدلفې له لارو څخه له ځان سره واخلي او د جمراتو له خوا دې ګیټکی نه راټولوي.

کله چې د عقبې جمرې له ویشتلو فارغ شو ، نو بیا به هدیه ذبح کړي .( که چیرې د سعودي عربستان حکومت د مالونو د ذبح کولو ځایونه بند کړي ؤ ، نو د افغانستان حجاج به د هدیې د ذبح کولو په عوض کې د عمرې د اداء کولو څخه وروسته د منٰی تر ورځې پورې درې روژې ونیسي او کله چې وطن ته راوګرځید نو اووه(۷) روژې به په وطن کې ونیسي چې ټولې لس روژې کیږي). کله چې یې هدیه ذبح کړه ، نو د سلماني دوکان ته به ورشي او خپل سر به وخریوي او یا به یې کم کړي ، خو خریل یې افضل دي. کله چې یې سر وخریلو ، نو هرڅه چې د احرام په وجه وربانديې بند ؤ ورته جائز شول ما سوا دخپلې ښځې سره د کوروالي نه. بیا به په همدغه د اختر په ورځ یا په بله کومه ورځ مکې مکرمې ته لاړ شي او طواف زیارت به وکړي . طواف زیارت دحج دوهم رکن دی. او د طواف زیارت کول د اختر د ورځو څخه وروسته کول مکروه دي او موجب د دم دی.

کله چې یې طواف زیارت وکړ، نو د احرام ټول ممنوعه کارونه ورته جائز شول حتی چې د خپلې ښځې سره کوروالی ورته هم جائز شو.

بیابه منٰی ته ولاړ شي او په منٰی کې به شپه تیره کړي او د ذوالحجې په یوولسم تاریخ به د زوال څخه وروسته جمراتو ته لاړشي او درې واړه جمرې، جمره صغرىٰ وسطىٰ او کبرىٰ به په ترتیب سره وولي او هره یوه جمره به په اوو(۷) ګیټکیو وولي.

بیابه خیمو ته ولاړ شي او شپه به په خیمو کې تیره کړي او د ذوالحجې په دولسم تاریخ به هم د زوال څخه وروسته درې واړه جمرې وولي، او په دې سره دده حج پوره شو.

بیا به مکې مکرمې ته ولاړ شي او په لاره کې به د «محصب» په ځای کې دمه وکړي ولو که دیو ساعت لپاره هم وي .

بیا چې کله د سفر وخت را نږدې شو ، نو طواف صدر چې طواف وداع هم ورته ویل کیږي وکړي او دا طواف د آفاقي باندې واجب دی. بیابه زم زم د اوبو خواته ورشي او هغه به وڅښـــي او له ځان سره به یې هم واخلي. بیابه د کعبې شریفې دروازې ته ورشي او د کعبې شریفې دُرشل به مچي کړي بیا ملتزم ته ور مخ ته شي او خپله خیټه به له بیت الله سره ولګوي او خپل ښي اړخ مخ به په بیت الله باندې کیږدي، او د کعبې شریفې په پردو باندې به منګولې ولګوي او په دعاء کې به کوښښ وکړي او ژړا دې وکړي.

ښځه د حج په افعالو کې د سړي په شان ده ، خو مګر هغه به مخ ښکاره کوي او سر په پټوي او د تلبیې دویلو پر وخت به آواز نه پورته کوي او په طواف کې به رمل نکوي او په میلین اخضرینو کې منده نه وهي او د ویښتو څخه به د ګوتو بند په اندازه سرونه کموي او حلق به نکوي او ګنډلې جامې به اغوندي او که د حجر الاسود سره سړي موجود وي، نو حجر الاسود به نه ښکلوي.

که چیرې په زنانه باندې د احرام پر وخت حیض راغلو، نو غُسل دې وکړي او احرام دې وتړي ، د عمرې او حج ټول افعال به کوي ، مګر طواف به نکوي او که چیرې کومه زنانه د عرفات د وقوف څخه وروسته او طواف زیارت څخه وروسته حائضه شوه، حج یې وشو او طواف صدر ور باندې نشته ، مګر که چیرې په مکه مکرمه کې وه او له حیض څخه پاکه شوه طواف صدر یا طواف وداع کول وربانديې واجب دی. همداراز که چیرې د مکې مکرمې له کورونو څخه ووتله او بیا له حیض څخه پاکه شوه، نو دطواف وداع لپاره بیرته راګرځیدل وربانديې نشته. مأخذونه: نور الإیضاح (ص: ۱۴۱- ۱۵۳) ، الاختیار لتعلیل المختار (۱/ ۱۶۸)، الجوهرة النیرة (۲/ ۱۳۸)

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت لپاره مدینې منورې ته تلل:**

د سعودي عربستان حکومت د اداري اصولو په بنا د هر دولت او هیواد حاجیان په دوه برخو وویشل کیږي.

په پیل کې نیم حجاج مدینې منورې ته بوتلل کیږي او بیا له مدینې منورې څخه مکې مکرمې ته بوتلل کیږي.

او باقي پاتې نیمایې حجاج مستقیماً مکې مکرمې ته بو تلل کیږي .

کله چې د حج مراسم خلاص شي، نو کومو حجاجو چې د مدینې منورې زیارت نه وي کړی، هغوی مدینې منورې ته بیول کیږي.

غواړم چې په مدینه منوره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت داداء کولو او په مسجد نبوي کې د لمونځونو د اهمیت په اړه معلومات تاسو ته وړاندې کړم. داچې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډیرو غورو نیکیو څخه دی ، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل زیارت لپاره خپلو امتیانو ته ترغیب ورکړی دی او د هغه مبارک صلی الله علیه وسلم د زیارت په مستحبوالي کې زیات احادیث راغلي دي.په یو روایت کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ زَارَ قَبْرِي وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي» سنن الدارقطني (٣/ ٣٣٤) قال ابن الملقن رحمه الله: وَهَذَا إِسْنَاد جيد.البدر المنير (٦/ ٢٩٦)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چاچې زما د قبر زیارت وکړ، واجب شو د هغه لپاره زما شفاعت.

په یو بل روایت کې راځي: عَنْ حَاطِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ زَارَنِي بَعْدَ مَوْتِي فَكَأَنَّمَا زَارَنِي فِي حَيَاتِي» سنن الدارقطني (٣/ ٣٣٤)

ژباړه: د حاطب رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې زم زیارت وکړي پس له مرگ زما څخه ، دا داسې ده لکه چې ده چې زیارت وکړ زما زما په ژوند کې.

په یو بل روایت کې راځي: عن عمر قال سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول :«من زار قبري أو قال من زارني كنت له شفيعا أو شهيدا» مسند الطيالسي (ص: ١٢)

ژباړه: د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه فرمایل: چاچې زما د قبر زیارت وکړ او یا یې داسې وفرمایل: چاچې زما زیارت وکړ، شم به زه د هغه لپاره شفاعت کوونکی او یا گواهي کوونکی(دده په ایمان) باندې.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:عن بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم:« من حج البيت فلم يزرنى فقد جفانى» اخرجه ابن عدى وقال : فيه النعمان بن شبل الباهل وهو ثقة. الكامل في الضعفاء (٧/ ١٤)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې حج وکړ او زما زیارت یې ونکړ، نو هغه زما سره جفا وکړه.

بل داچې د ټولو محققینو په نزد رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل قبر مبارک کې ژوندی دی او رزق ورته ورکول کیږي ، خو زمونږ د قاصرو سترگو د لید څخه پناه دی.همدارنگه په مدینه منوره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد دی، چې یو لمونځ په کې په زرو لمونځونو قبلیږي .

په حديث شريف کې راځي: «صَلاَةٌ في مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ، إِلَّا الْمَسْجِدَ الحَرَامَ» صحيح البخاري (٢/ ٦٠)

ژباړه: يو لمونځ زما په دې مسجد کې غوره دى د زرو لمونځونو څخه په نورو مسجدونو کې، علاوه د مسجدالحرام څخه.

څوک چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زيارت لپاره مدينې منورې ته روان شي، هغه ته په کار دي چې په نبي عليه السلام باندې زيات درود ووايې. ځکه نبي عليه السلام درود له لرې څخه ملائکې ور رسوي او که څوک د نبي عليه السلام د روضې په خوا کې درود ووايې ، نو نبى عليه السلام يې په خپله اوري.

کله چې د مدينې منورې د ښار ديوالونه ويني ، نو درود ويل به زيات کړي او داسې به ووايې: اى الله ! دا ستا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم حرم دى او ستاد وحيې د نزول ځاى دى په ما باندې احسان وکړه دې ښار ته په داخليدو سره او وه ګرځوه دا ښارزما لپاره وقايه د جهنم د اور څخه او وګرځوي ما د نبي عليه السلام د شفاعت باندې فائز د قيامت په ورځ.

مدينې منورې ته د داخليدو څخه مخکې يا وروسته به غُسل به وکړي د نبي عليه السلام د زيارت لپاره که امکان يې درلود.

خوشبوى به په ځان ولګوي او نوي يا ښايسته جامې به واچوي د نبي عليه السلام د زيارت د تعظيم لپاره، بيابه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زيارت لپاره مسجد النبوي ته روان شي، د مسجد النبوي په رياض الجنه مقام کې، يا بل کوم مناسب ځاى کې به دوه رکعته تحية المسجد لمونځ وکړي، له دې وروسته به د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د مبارکې روضې (قبر) خواته ورشي، په خورا آدب او احترام سره به پر پيغمبر عليه السلام سلام واچوي، او داسې به ووايې: (السلام عليك يا رسول الله، السلام عليك يا نبي الله، السلام عليك يا حبيب الله، السلام عليك وعلى آلك الطيبين وأهل بيتك الطاهرين).

بيا به يو قدم واخلي، او د مسلمانانو پر لومړي خليفه ابو بکر صديق رضي الله عنه به هم سلام واچوي او داسې به ووايې: (السلام عليك يا خليفة رسول الله صلى الله عليه وسلم، السلام عليك يا صاحب سيدي رسول الله جزاك الله عنا أفضل الجزاء) .

بيا به يوقدم مخکې واخلي ، او په امير المؤمنين حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دې به هم داسې سلام واچوي:( السلام عليك يا أمير المؤمنين السلام عليك يا مظهر الإسلام). يا په هر لفظ چې قادر وي سلام دې ووايې. کوښښ دې وکړي، چې د مزاحمت لامل نشي. ترڅو چې په مدينه منوره کې وي کوښښ به کوي ترڅو لمونځونه په مسجد النبوي کې په جماعت سره وکړي، ځکه چې په مسجد النبوي کې يو لمونځ د نورو ځايونو دزرو لمونځونو دثواب سره برابر دى. له دې وروسته به مسجد قباء ته لاړ شي، او هلته به دوه رکعته تحية المسجد لمونځ وکړي، په مسجد قباء کې دوه رکعته لمونځ ديوې عمرې برابر ثواب لري.

همدا راز په مدينه منوره کې د بقيع د قبرستان ، داحد د شهيدانو، او دنورو تاريخي ځايونو ليدنه يو نيک عمل دى. په آخر کې هيله مند يو ، چې په مقدسو ځايونو مو له نيکو دعاګانو څخه هير نه کړئ.

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليکم ورحة الله وبرکاته.**